# د گوَري ژبي فونولوژي

| | | |
|---|---|---|
| ĉ = ڇ | ɉ = ڃ | θ̈ = ٿ |
| o = ۏ | ŋ = ڼ | ṡ = ڜ |
| ȧ = ه | ê = ې | u = ۆ |
| | ay = ۍ | |

څېړندوی شریف الله سانېن

د گوَري ژبي فونولوژي

څېړندوی شریف الله سانېن

# Phonology of the Gawari Language

Assistant Professor Sharifullah Sanin

2022

ISBN 978-9936-661-36-3

9 789936 661363

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونیت
د ژبو او ادبیاتو مرکز
د وروڼو قومونو د ژبو او ادبیاتو انسټیټوټ

# د ګوَري ژبې فونولوژي

څېړندوی شریف الله ساپین

## د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** د ګوَري ژبې فونولوژي

**لیکوال:** څېړندوی شریف الله سانېن

**ایډېټور:** څېړنیار شریف الله دوست

**اهتمام:** ش. دوست

**خپرونکی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د لیکلو کال:** ۱۳۹۹ هـ.ش

**د چاپ کال:** ۱٤۰۱ل / ۱۴۴۴ هـ ق

**دچاپ ځای:** لایف سټار مطبعه، کابل-افغانستان

ISBN : ۳- ۳٦- ٦٦۱- ۹۹۳٦- ۹۷۸

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


د لارښود استاد نظر ........................ أ
تقریظ ........................................ ه
تقریظ.........................................ك
سریزه........................................ ۱


## لومړی څپرکی

## د موضوع شالید


۱- د بهرنیو پوهانو څېړنې ........................ ۹
۲- د کورنیو پوهانو څېړنې......................... ۱٤


## دویم څپرکی

## اندو- اروپایي ژبو ته لنډه کتنه


د آریک ژبنباخ څانګو ته لنډه کتنه ..................... ۳۳
۱- اندو- آریایي ژبې(The Indo- Aryan Languages) .............. ٤۱
۲- آریاني ژبې(Aryani Languages) ....................... ٤٤
۳- داردیک ژبې (Dardic Languages)....................... ٤۷


## درېیم څپرکی

## په داردیک ژبو کې د ګـوَري ژبې دریځ


الف) د ګوَري ژبې پېژندنه او تاریخچه ..................... ٦۳
ب) د ګوَري ژبې په اړه د پوهانو نظریات ..................... ۸٦

۱- د بهرنیو پوهانو نظریات ........................ ۸٦
۲- د کورنیو پوهانو نظریات ........................ ۹۵
۳- د پورتنیو نظریاتو ارزونه ........................ ۹۷
ج) د ګوَري ژبې د ویونکو مېشتځایونه ........................ ۱۲۲
ګوَریان په افغانستان کې ........................ ۱۳٤
ګوَریان په پښتونخوا کې ........................ ۱۳۷
د) د داردیک څانګې له پشه یي او نورستاني(کلښه الا) ژبو سره د ګوَري
ژبې نږدیوالی ........................ ۱٤٥
۱- په شمېر نومونو کې ........................ ۱٤٦
۲- د کورنیو غړو او خپلوانو په نومونو کې........................ ۱۵۰
۳- د میوه جاتو په نومونو کې ........................ ۱۵٦
۴- د څارویو په نومونو کې........................ ۱٦۰
۵- د انسان د بدن د غړو په نومونو کې........................ ۱٦۵

## څلورم څپرکی

## د ګرامر لنډه تشریح، توضیح او د ګوَري ژبې فونولوژي

الف) د ګرامر لنډه تشریح او توضیح ........................ ۱۷۱
ژبپوهنه( Linguistics) ........................ ۱۷۱
۱- نظري ژبپوهنه(Theoretical Linguistics)........................ ۱۷۲
۲- تطبیقي ژبپوهنه(Applied Linguistics) ........................ ۱۷۲
تشریحي ژبپوهنه(Descriptive Linguistics):........................ ۱۷۳
د تشریحي ژبپوهنې څانګې ........................ ۱۷٤

۱- فونیټیکس یا اوازپوهنه (Phonetics):............ ۱۷٤
۲- گرامر (Grammar):............ ۱۷۵
د گرامر ډولونه ............ ۱۷۷
د گرامر څانګې ............ ۱۸۰
۱- غږپوهنه(Phonology)............ ۱۸۰
۲- ګړپوهنه(Morphology)............ ۱۸۰
۳- نحوه(Syntax) ............ ۱۸۰
۴- مورفو فونیم(Morphophonemic)............ ۱۸۰
۱- فونولوژي(غږپوهنه) (Phonology)............ ۱۸۱
۲- فونیټیکس (Phonetics) ............ ۱۸۳
د فونیټیکس(Phonetics) څانګې............ ۱۸۶
۱- تولیدي فونیټیکس (Articulatory Phonetics) ............ ۱۸۶
۲- آزمایښتي(لېږدیزه) فونیټیکس (Acoustic Phonetics) ............ ۱۸۶
۳- اوریزه فونیټیکس (Auditory Phonetics) ............ ۱۸۷
څنځیري او ناڅنځیري فونیمونه یا غږونه ............ ۱۸۸
۱- څنځیري(Segmental)............ ۱۸۸
۲- ناڅنځیري(Supra segmental)............ ۱۸۹
څپه یا هجا (Syllable): ............ ۱۸۹
د څپې ډولونه............ ۱۹۰
فشار یا خج (Accent= Stress): ............ ۱۹۰
آهنګ ( Intonation): ............ ۱۹۱

بېلتون او پیوستون(فصل و وصل): ........................ ۱۹۲
زیروبمي (Pitch): ........................ ۱۹۳
۳- د فونولوژي او فونیټیک ترمنځ توپیر ........................ ۱۹۳
۴-فونیم Phoneme ........................ ۲۰۲
۵- ګرافیم Grapheme........................ ۲۰۳
٦- د فونیم او ګرافیم ترمنځ توپیر ........................ ۲۰۵
۷- الوفون ........................ ۲۰٦
۸- د فونیم او الوفون ترمنځ توپیر ........................ ۲۰٦
ب) د ګوَري ژبې د فونیمونو(غږونو) ډولونه(د ګوَري ژبې د فونیمونو څېړنه، پلټنه او پېژندنه) ........................ ۲۰۷
۱- خپلواکغږونه Vowels........................ ۲۰۸
د خپلواکو غږونو د منځته راتګ، حالت او ځانګړتیاوې ........................ ۲۰۹
- د ژبې د دریځ له مخې........................ ۲۰۹
پورتني خپلواکغږونه........................ ۲۱۰
منځوال(وسطي) خپلواکغږونه ........................ ۲۱۰
لاندیني یا ښکتني خپلواکغږونه ........................ ۲۱۰
مخني(مخکیني) خپلواکغږونه(Front Vowels) ........................ ۲۱۱
منځني خپلواکغږونه(Central Vowels) ........................ ۲۱۱
وروستني خپلواکغږونه(Back Vowels)........................ ۲۱۱
- د شونډو د دریځ له مخې........................ ۲۱۱
ګرد خپلواکغږونه(Round Vowels) ........................ ۲۱۲

ناگرد خپلواکغږونه(Unround Vowels) ............................ ۲۱۲
- د لاندینۍ ژامې د ټینګوالي او سستوالی له مخې.................. ۲۱۲
ټینګ یا پرانیستي خپلواکغږونه........................................ ۲۱۲
سست یا ترلي خپلواکغږونه ............................................ ۲۱۳
د ګوَري ژبې خپلواکغږونه ............................................ ۲۱۳
لومړی- لنډ خپلواکغږونه یا واولونه.................................. ۲۱۵
۱- ا (الف- زور)/ a / ................................................ ۲۱۵
۲- ه / ȧ / ............................................................ ۲۱۶
۳- ه (زورکی) / ə / .................................................. ۲۱۷
دویم- اوږده خپلواکغږونه یا واولونه ................................. ۲۱۷
۱-آ(ممدوده الف)/ ā / ................................................ ۲۱۷
۲- ۆ (اۆ) / o / ..................................................... ۲۱۸
۳- ۆ (اۆ) / u / ..................................................... ۲۱۹
۴- ي (اِي) / i / ..................................................... ۲۲۰
۵- ې (اِې) / e / ..................................................... ۲۲۱
٦- ې (اې) / ê / ..................................................... ۲۲۲
د ګوَري ژبې د خپلواکو غږونو( واولونو) د لښتیلیک... ........ ۲۲٤
په خوله کې دننه د ګوَري ژبې د خپلواکو غږونو (واولونو)... ........ ۲۲۵
۲- بېواکغږونه Consonants ........................................ ۲۲٦
د سا هوا، غړیزو مزو یا پردو او تولید ځای یا... ................... ۲۲٦
د سا هوا جریان له مخې د بېواکغږونو یا... ........................ ۲۲٦

- تم یا انسدادي غږونه (Exclusive Sounds) ...................... ۲۲۷
- موښلي یا احتکاکي غږونه (Fricative Sounds) ................. ۲۲۷
- تم موښلي(انسدادي احتکاکي) غږونه (Affricate Sounds) ..... ۲۲۷
- اړخیز یا رپند غږونه(Trill/ Liquid Sounds) ..................... ۲۲۸
- پزیز غږونه (Nasal Sounds) .......................................... ۲۲۸
د غږ د ډول یا د غږیزو مزو یا پردو د رپا له مخې... ......... ۲۲۸
- غږن غږونه(Voiced Sounds) ........................................ ۲۲۸
- ناغږن غږونه(Voiceless Sounds) ................................ ۲۲۹
د تولید ځای یا غږیزو مخرجونو له مخې د بېواکغږونو یا... ......... ۲۲۹
- غبرګشونډیز غږونه(Bilabial) ....................................... ۲۲۹
- شونډیز غاښیز غږونه(Labiodental) ............................... ۲۲۹
- غاښیز غږونه(Dental) .............................................. ۲۳۰
- غبرګژبیز غږونه(Retroflex) ........................................ ۲۳۰
- وریېز غږونه(Alveolar) ........................................... ۲۳۰
- څېر تالوییز غږونه(Pre Palatal) ................................... ۲۳۰
- نرم تالوییز غږونه(Post Palatal) ................................... ۲۳۱
- ژبۍ تالوییز غږونه(Uvular) ....................................... ۲۳۱
- ستونیز یا حلقي غږونه(Glottal) ................................... ۲۳۱
لومړی- د ګوَري ژبې خپل بېواکغږونه یا کانسونینټونه ............ ۲۳۵
دویم- دخیل بېواکغږونه یا کانسونینټونه ........................... ۲۵۹
د عربي ژبې دخیل بېواکغږونه ......................................... ۲۵۹

د پښتو ژبې دخیل بېواکغږونه ........................ ۲۶۱
۳- نیمواک غږونه Semi Vowels ........................ ۲۶۲
د (و= /w /) نیمواکغږ ........................ ۲۶۲
د (ی=/y /) نیمواکغږ ........................ ۲۶۲
د ګوَري ژبې د بېواکغږونو(کانسونېنټونو) د ځانګړنو جدول ......... ۲٦٤
۴- غبرګغږونه (Diphthongs) ........................ ۲٦٦
د فونیټیکس له نظره ........................ ۲٦٦
د فونولوژي له نظره........................ ۲٦٦
د ( ی/ y /) غبرګغږونه........................ ۲٦۷
۱- د ( یٓ/ ay /) غبرګغږونه ........................ ۲٦۷
۲- د ( آی/ āy /) غبرګغږونه ........................ ۲۸٦
۳- د ( یِ/ əy /) غبرګغږونه ........................ ۲٦۸
۴- د ( ۆی/ oy /) غبرګغږونه........................ ۲٦۸
۵- د ( ۆی/ uy /) غبرګغږونه........................ ۲٦۸
د ( و/ w /) غبرګغږونه ........................ ۲٦۹
۱- د ( اَو/ aw /) غبرګغږونه........................ ۲٦۹
۲- د ( آو/ āw /) غبرګغږونه ........................ ۲٦۹
۳- د ( ېو/ ew /) غبرګغږونه ........................ ۲٦۹
۴- د ( یو/ iw /) غبرګغږونه ........................ ۲۷۰
۵- د ( ېو/ êw /) غبرګغږونه ........................ ۲۷۰
د ډول، کارونې دریځ او په لیک کې د ګرافیم د موقعیت له... ..... ۲۷۰

٥- بېواک مرکب غږونه Clusters ........................ ۲۷۳
د کلمو په پیل کې.............................................. ۲۷۳
د کلمو په منځ کې ............................................. ۲۷٤
د کلمو په پای کې.............................................. ۲۷٤
٦- د گوَري ژبې فونیمیکي الفباء ........................ ۲۷٥
الفباء( Alphabet) ........................................ ۲۷٥
لیکدود(Orthography)........................................ ۲۷٦
د گوَري ژبې مکمله معموله او فونیمیکي رسمي الفباء............ ۲۷۸
د گوَري ژبې ځانگړې معموله او فونیمیکي رسمي الفباء... ........ ۲۸۳
پایله ........................................................ ۲۹۱
وړاندیزونه .................................................. ۲۹٦
مأخذونه ..................................................... ۲۹۹
ضمایم........................................................ ۳۰۷

# د لارښود استاد نظر

علمي- څېړنيزه پروژه : " د گوَري ژبې فونولوژي"

څېړونکی : څېړنيار شريف الله سانېن

د څېړنې موخه : د څېړندوی علمي رتبې ته د جگېدو لپاره

لارښود استاد : څېړنوال رفيع الله نيازی

## د اثر معرفي

دا علمي- څېړنيز اثر يوه سريزه، څلور څپرکي، پايله، وړانديزونه او مأخذونه لري او هر څپرکی په بېلابېلو برخو وېشل شوی، چې په لنډ ډول پکې اندو- اروپايي ژبې او په دارديک ژبو کې د گوري ژبې پر دريځ باندې بحث شوی او بيا پکې د گوري ژبې فونولوژي ليکل شوې او څېړل شوې ده.

## د څېړنې ډول او ميتود

دا علمي- څېړنيزه رساله د کتابوتوني او ساحوي څېړنې پر بنسټ د تحليلي ميتود په اډانه کې بشپړه شوې او په يوه برخه کې د گوري ژبې ځينې کلمې له نورستاني او پشه يي ژبو سره په پرتليز ډول هم څېړل شوي دي. څېړونکي چې د خپل اثر د بشپړولو لپاره کوم ميتود ټاکلی، د څېړنې له اصولو سره سم يې هغه د خپلې موضوع په سريزه کې معرفي کړی هم دی او تر پايه يې خپله څېړنه د همدغه ميتود د اصولو تابع ساتلې ده.

## د څېړنې سرچينې

تر کومه بريده چې ماته پته ده، په ټوله کې د گوري ژبې او په ځانگړي ډول د گوري ژبې د گرامري موضوعاتو په اړه هومره مأخذونه او

سرچینې، چې دا رساله دې ترې په اوسنۍ بڼه بشپړه شوې وای، نه وې، یوازې د ځینو بهرنیو او کورنیو پوهانو په یو نیم اثر کې د ګوریانو د مېشتځایونو او ژبې په اړه ځینې لیکنې شوې دي. ښاغلي شریف الله سانېن د دې اثر د بشپړونې لپاره له بېلابېلو مراجعو، آثارو، رسالو، کتابونو او د ګوري ژبې له ویونکو څخه معلومات راغونډ کړل او بیا یې ترې دا علمي- څېړنیزه پروژه بشپړه کړه.

**د دې څېړنې ارزښت**

ګوري د ژوندیو ژبو له ډلې څخه هغه ژبه ده، چې د افغانستان د ختیځ په ځانګړي ډول د کونړ ولایت په ختیځو سیمو کې ویونکي لري. لکه د نورو ژبو په څېر په ګوري ژبه کې هم غني فولکلوري ادبیات شته، خو له دې سره سره ځینو ګوریانو په ګوري ژبه کې ځینې لومړني نثري او منظوم آثار هم تخلیق کړي دي. په دې ژبه کې د نثر او شعر د لیکلو لپاره تر ټولو ستونزمنه مسئله دا وه چې د لیکنې لپاره یې واحد علمي الفبایي لیکنی سیستم نه درلود، چې د هغې پر بنسټ د دې ژبې ګرامر ولیکل شي. د افغانستان د علومو اکاډمۍ د هغه مسوولیت او هوډ له مخې چې د افغانستان د ژبو د ودې او ژوندي پاتې کېدو په برخه کې یې لري، وپتېیله چې په تدریجي ډول د ګوري ژبې لپاره ګرامر ولیکي. د علومو اکاډمۍ څو تنو پوهانو د ګوري ژبې الفباء ترتیب کړه او د ګرامر لیکنې د دې کار لومړنۍ هڅه، چې د ګوري ژبې فونولوژي ده، ښاغلي شریف الله سانېن برابره کړه او د ګرامر نورې برخې به یې په راتلونکې کې برابرې شي. له دې کار سره به د ګوریانو لپاره پخپله ژبه د لیکنې علمي سیستم

برابر او د دې ژبې د ادب او فرهنګ د غوړېدو لپاره به ترې کار واخيستل شي، چې دا کار په خپل ذات کې ستر اهميت او ارزښت لري، نو دا څېړنه د دې لړۍ د کارونو يو ښه اغاز ګڼل کېدای شي.

د لاربنود استاد په توګه زه د دې علمي- څېړنيزې پروژې په اړه خپل نظر داسې وړاندې کوم:

۱- د رسالې د ليکلو پر مهال له ټولو هغو سرچينو چې لاسرسی ورته شونی و، ګټه اخيستل شوې ده.

۲- د ژبې او بيان سبک يې ساده او روان دی او د موضوعاتو تسلسل ته هم پکې پاملرنه شوې ده.

۳- د ليکوالۍ اصول او پرنسيپونه هم پکې تر شونې بريده پلي شوي دي.

۴- د څېړنې غوره شوی ميتود يې ترپايه په نظر کې نيولی دی.

۵- څېړونکي د ګوري ژبې د تاريخچې، د ګوريانو د مېشتځايونو او د ګوري ژبې د فونولوژۍ برخې په ښه ډول تشريح او تحليل کړې دي. د مسايلو له وړاندې کولو، تشريح کولو او تحليلونو څخه يې څرګندېږي، چې په ډېرو برخو کې يې د نورو ليکوالو پر ليکل شويو آثارو کره کتنه هم کړې ده.

٦- دا رساله په عام ډول د ګوري ژبې او ځانګړي ډول د ګوري ژبې د فونولوژۍ په برخه کې کافي معلومات لري، نو علومو اکاډمۍ ته يې د عامې استفادې لپاره د چاپ وړانديز هم کوم.

په پای کې زه دا علمي- څېړنیزه رساله کافي، مناسبه او مثبته ارزوم او پر بنسټ یې ښاغلی شریف الله ساني د څېړندوی علمي رتبې ته د لوړېدو وړ او مستحق بولم.

څېړنوال رفیع الله نیازی

د علومو اکاډمۍ علمي منشي

۱۳۹۹/۳/۲۰

# تقریظ

د ژبو او ادبیاتو مرکز محترم ریاست ته!

د " گوَري ژبې فونولوژي" علمي- څېړنیزه پروژه چې د ژبو او ادبیاتو مرکز د ورونړو قومونو د انستیتوت غړي څېړنیار شریف الله سانېن د څېړندوی علمي پوړ ته د لوړاوي لپاره د ښاغلي څېړنوال رفیع الله نیازي په لارښوونه په څلورو څپرکو کې له (۷۰) مأخذونو څخه په استفاده بشپړه کړې او ما ته مو د ۳/۳۱/۱۳۹۹ نېټې (۱۹/۱۹) گڼه لیک په ذریعه د ارزونکي نظر(تقریظ) لپاره را استولې وه، دا دی په اړه یې خپل ارزونکی نظر له هر اړخیزې کتنې وروسته په لاندې شرحه وړاندې کوم:

دا چې د هر ملت د جوړښت بنسټیز توکي په ملت کې میشت قومونه او ولسونه دي، چې هر یو یې معمولاً پخپل منځ کې یوه ژبه، توکم او ځینې نور یووالي او له نورو سره له دغو اړخونو جلا والي لري. زموږ گران هېواد هم له هغو لرغونو او تاریخي ملتونو څخه دی چې پکې گڼ شمېر قومونه او ولسونه د آسیا د لویې وچې په دې جغرافیوي خطه او قلمرو کې مېشت، افغانستان د دې ټولو قومونو گډ کور "افغان" د دې ټولو قومونو شریک نوم او همدې ټولو قومونو او ولسونو په گډه افغان ملت جوړ کړی دی.

د دې لرغوني هېواد په قومونو کې یو هم "گوَر" دی چې د افغانستان په ختیځه برخه د کونړونو ولایت په نارۍ، غازي آباد او د هغه په گاونډ( پښتونخوا) د چترال په سیمه کې استوگن دي. دوی د "گوَري" په نامه ځانگړې ژبه او د شفاهي او تحریري ادبیاتو لویه پانگه لري. د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو

مرکز د ورونو قومونو د ژبو او ادبیاتو انستیتوت " د ګوَري ژبې فونولوژي" د یوې علمي- څېړنیزې پروژې په توګه ښاغلي شریف الله ساښن ته سپارلې چې د ټاکلو مفرداتو له مخې یې په څلورو څپرکو کې په دې ترتیب، تنظیم اوډلې او بشپړه کړې ده:

اثر د څېړونکي په سریزه پیل شوی چې پکې له مقدماتي خبرو وروسته خپله څېړنیزه پروژه په لنډیز سره راپېژني، د بېلابېلو څپرکو له منځپانګې مو خبروي او په څېړندود، د موضوع پر اهمیت او مبرمیت او اړتیا ځغلنده رڼا اچوي.

لومړی څپرکی چې د موضوع شالید ته ځانګړی شوی، څېړونکي لومړی د موضوع پر شالید رڼا اچولې، د مخه ډېرې لړې او خورې ورې ترسره شوې چارې یې له نظره تېرې کړي او هغو ته د انتقادي کتنې په تنیجه کې یې دا جوته کړې چې د ګوَري ژبې د ګرامر لیکنې لپاره یوې اکاډمیکې لیکنې او څېړنې ته اړتیا وه، نو ځکه د ژبو او ادبیاتو مرکز د ورونو قومونو د ژبو او ادبیاتو انستیتوت د ګرامر د لومړۍ برخې(فونولوژي) لیکنه دوی ته سپارلې ده.

دوهم څپرکی اندو- اروپایي ژبو پېژندنې ته، چې ګوَري ژبه یې هم د داردیک ژبو په څانګې پورې اړه لري، پېژندنې ته جلا شوی دی. څېړونکي په دې برخه کې په مناسب تفصیل سره اندو- آریایي، آریاني او داردیک ژبې او د هغو لوېدیځې، ختیځې او مرکزي ژبې، چې ګوَري ژبه یې له مرکزي څانګې سره تړاو لري، را پېژني.

دربیم څپرکی په داردیک ژبو کې د ګوَري ژبې دریځ څېړي. څېړونکي په دې برخه کې د "ګوَري ژبې" او "ګوَر قوم" لنډه تاریخچه وړاندې کړې، د دغه

ژبې او قوم په اړه يې د بهرنيو او کورنيو پوهانو ځينې نظريات جلا جلا راوړي او د کره کتنې په ترڅ کې يې ارزولي دي.

څلورم څپرکی د ګوَري ژبې د ګرامر لومړنۍ برخې (فونولوژۍ) ته ځانګړی شوی، څېړونکي پکې لومړی د ګرامر پېژندنې په باب لنډ، خو جامع او اړين معلومات وړاندې کړي، غږپوهنه، فونيټيک او د هغې بېلابېلې څانګې او اړونده توکي: فونيم، الوفون او نور راپېژني او بيا په دوهمه برخه کې په ترتيب سره لومړی د ګوَري ژبې د فونيمونو بېلابېل ډولونه(خپلواک غږونه، بېواک غږونه نيمواک غږونه، غبرګغږونه، بېواک مرکب غږونه او ... ) په مناسبت تفصيل په جدولونو کې په مثالونو سره تشريح کوي او په پای کې د ګوَري ژبې د فونيميکي الفباء، چې په دې وروستيو کې د علومو اکاډمۍ د ژبپوهانو له خوا جوړه او د استفادې لپاره وړاندې شوې ده، په يو جامع جدول کې چې د ګوَري ژبې د الفباء ټول (۵۴) توري د هغو له تصويب شويو سمبولونو او داسې مثالونو يا بېلګو سره، چې دغه ټول توري پکې د کلمې په پيل، منځ او پای کې راغلي، راوړې ده.

څېړونکي خپله څېړنه په يوې جامع پايلې، وړانديزونو او ضميمې سره، چې پکې د ګوَري ژبې د دوو ولسي کيسو متنونه د لوستونکو د پوهاوي لپاره په ګوَري ليکدود او فونيميکه الفباء ليکلي او له پښتو ژباړې سره يې وړاندې کړي دي، د اخځليکونو د عمومي ليکلړ په راوړلو سره پای ته رسېدلې ده.

سره له دې چې د څېړونکي په وړاندې د داسې يوې نوې ژبپوهنيزې موضوع څېړنه( د ګوَري ژبې د ګرامر د يوې برخې فونولوژۍ) ليکنه او څېړنه پرته وه چې د مخه پرې هيڅ کار نه و شوی، د ګوَري ژبې، قوم او ولسي

ادبیاتو د پېژندنې په اړه ډېرې لږې خورې ورې لیکنې چاپ وې، چې هغه هم ځینو بهرنیو پوهانو او دلته په هېواد کې د څېړونکي پلار اروانښاد محمد نواز حقیقت سانېن او پخپله دوی(لیکوال) کړې وې، خو ګرامر لیکنې ته یې چا ګوتې نه وې وروړې، معلومه خبره ده چې په داسې موضوع چې دمخه پرې اکاډمیکي لیکنې او څېړنې په نشت شمېر وي، یو ستونزمن کار و، خو څېړونکي چې له یوې خوا د ژبې ویونکی دی، په ادبیاتو او ژبپوهنه کې د اکاډمیکي زده کړې او مطالعې تر څنګ په لیکنه او څېړنه کې د ښه استعداد خاوند دی، له دې ستونزمنې چارې بریالی راوتلی او د خپلې مورنۍ ژبې د ګرامر لومړنۍ برخه (فونولوژي) یې لیکلې او د راتلونکو لپاره یې په دې برخه کې د لا زیاتو لیکنو او څېړنو لپاره لاره پرانیستې ده. له څښتن تعالی څخه دوی ته ګوَري ژبې د ګرامر د پاتې برخو( ټول صرف او نحوې) د لیکلو توفیق غواړم، چې په دې ترتیب یې خپلې ژبې ته د ټول ګرامر لیکلو ویاړ ورپه برخه شي.

زه د دې علمي- څېړنیزې پروژې د ښې او منځپانګې د ځینو مهمو برخو ارزونه په دې ډول وړاندې کوم:

- په موضوع پورې د اړوندو مسایلو په وړاندې کولو کې بریالی،استدلالونه او څرګندونې یې مدللې، د معاصرې ژبپوهنې له مخې علمي او له منطقي تسلسل نه برخمنې دي.

- په څېړنه کې یې تشریحي او توضیحي میتود کارولی او په ځینو برخو، په ځانګړې توګه د شالید د برخې د آثارو د معرفۍ او د ګوَري ژبې او قوم په اړه د بهرنیو او کورنیو پوهانو د نظریاتو د ارزونې په برخه کې یې له کره کتنیز

میتود څخه کار اخیستی دی.

- د څېړنې موضوع يې د بېلابېلو څپرکو او برخو کې په لويو، منځنيو او څنګزنو سرليکونو باندې په داسې مناسبه توګه وېشلې، چې په ټوله کې يې د موضوع په پېژندنه او سپړنه کې د هغې څېړنيز حق اداء کړی دی.

- د نويو او باوري اخځليکونو او انټرنيټي سايټونو د کتنې په نتيجه کې د خپلې څېړنې لپاره له ترلاسه کړو معلوماتو څخه يې د څېړنې د معاصرو اکاډميکو اصولو سره سمه استفاده کړې، معلوماتي سرچينې يې لومړی د متن په لمنليکونو او بيا په مجموعي ډول د کتاب په پای کې د څېړنې او ليکوالۍ له معيارونو سره سمې راخيستې دي.

- د ليکنې لاره (سبک) يې ساده، روان، د معنوي او لفظي کړکيچ نه ژغورلی دی.

دې پورته يادونو او ځينو نورو ځانګړنو ته په کتنه او پاملرنه زه د دې څېړنې د ارزونکي په حيث د څېړونکي ترسره کړی څېړنيز کار په علمي او مسلکي لحاظ مثبت او پوره ارزوم، ښاغلی شريف الله سانېن په دې څېړنه د څېړنيار علمي پوړ څخه د څېړندوی علمي رتبې ته د لوړاوي وړ ګڼم. د څښتن تعالی په دربار کې ورته د نورو غوره علمي- فرهنګي خدمتونو او لوړو علمي پړاوونو په بريالۍ توګه د سرته رسولو هيله او دعا کوم، د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز ته د دې لپاره چې له اثر څخه استفاده عامه او د ګوَري ژبې د لومړي ګرامر د ليکلو او خپراوي

ویاړ د علومو اکاډمۍ او څېړونکي دواړو ورپه برخه شي، د ژر تر ژره چـاپ سپارښتنه کوم.

په درنښت

څېړنپوه دکتور سید محی الدین هاشمي

د ژبو او ادبیاتو مرکز- د علومو اکاډمي

۱۳۹۹ / ۴ / ۷

# تقریظ

بالاثر مکتوب نمبر (۲۰/ ۲۰) ۳۱ / ۳ / ۱۳۹۹ ریاست محترم مرکز زبانها و ادبیات اکادمی علوم نگاشته می شود.

من اثر علمی- تحقیقی معاون محقق شریف الله سانبن را که تحت عنوان " د گوَري ژبې فونولوژي" است مطالعه کردم، که برایم دلچسپ بود نویسنده در آغاز مقدمه، ضرورت چنین اثر مستقل، هدف تحقیق و روش کار خویش را بیان نموده، که خواننده با نگاهی نخست بر اهمیت و ارزش این پژوهش آگاهی حاصل نماید.

در فصل نخست به گذشتهٔ موضوع نظر اندازي صورت گرفته زیرا پس منظر موضوع مواد تحقیقی و پژوهشی را برای نویسنده فراهم می سازد، که این کار در اصول و معیار پژوهش بسیار سودمند و مؤثر پنداشته میشود.

فصل دوم آن در ارتباط زبانهای اندو- اروپايي بوده که شاخه های مختلف زبانهای آریایی، آریانی و از آن شمار زبانهای داردیک را که زبان گوَری نیز مشمول آن زبان می باشد، به صورت علمی و منطقی تشریح نموده و روابط این زبانها با اجزای مختلف آن از نگاه ریشه شناسی واژه گان، بسیار به گونه یی دقیق مورد مطالعه قرار داده شده است، که خیلی مطبوع و علمی می نماید.

فصل سوم آن حاکی از چگونه گی موقعیت زبان گوَری در موجودیت زبانهای داردیک بوده، که در آغاز در باره وجه تسمیه زبان گوري و انتساب آن به نامهای مختلف توضیح شده است. موازی با آن نظریات علمای خارجی و داخلی در باره رشد و تحول این زبان در نواحی مختلف شرقی، غربی و مرکزی و ارتباط این زبان با زبانهای پشه یی و نورستانی(کلبنه الا) به صورت تحلیلی مورد بحث قرار داده شده است، که بسیار سودمند و با ارزش می باشد.

در فصل چهارم فونولوژی زبان گَوَری و گرامر آن مورد شرح و ایضاح قرار داده شده است، که این بحث خیلی علمی و مهم می نماید؛ زیرا تهداب و ساختار زبان را فونولوژی آن تشکل میدهد و بالترتیب پس از تحلیل و بررسی مختصات فونولوژیکی زبان، گرامر عرض وجود می کند، بناءً بحث روی مخارج الاصوات در تشریح نظام ساختمان زبان بسیار مهم پنداشته می شود، که این کار دقت و ژرف اندیشی ویژه را میطلبد و خوشبختانه نویسنده با قبول زحمات فراوان در تشریح و تحلیل چنین جوهر زبانی که محور اساسی مطالعات زبانشناسی را تشکیل میدهد، به خوبی توفیق یافته است و در این عرصه کار شان شایان قدر می باشد.

در فرجام آنچه را من منحیث مطالعه خویش از این اثر علمی بیان میدارم این است که:

- موضوعات با نتیجه گیری و پیشنهادهای مهم اختتام یافته است، که از اهمیت ویژه برخوردار است.

- ترتیب مآخذ که جزء مهم اثر علمی- پژوهشی محسوب می گردد، به شیوهٔ بسیار مقبول تنظیم گردیده است.

لهذا من با ارزشمندی این اثر علمی- تحقیقی محترم معاون محقق شریف الله سانبن را مستحق ترفیع به رتبهٔ علمی محقق میدانم و از خداوند متعال موفقیت های بیشتر شان را آرزو می نمایم.

سرمحقق شریف الله شریف

آمر دیپارتمنت زبانشناسی انستیتوت زبان و ادبیات دری

۱۳۹۹/۴/۶هـ.ش

## سریزه

د نړۍ پر مخ د انسان ژوند له پیل څخه تر اوسه پورې د ټولنیز ژوند په بېلابېلو تکاملي دورو او مرحلو کې د بېلابېلو علومو، فنونو، هنرونو، اختراعاتو او کشفیاتو د پرمختګ او پراختیا شاهد دی چې د ټولنیز ژوند له چاپېرال څخه رانیولې د علومو د بېلابېلو برخو تر پرمختګ پورې یې نړۍ د انساني اړتیاوو او غوښتنو د پوره کولو په رنګ سمبال کړې او د انسانانو ترمنځ یې د اړیکو ټینګولو او د معلوماتو شریکولو له مخې یې د یو کور او کلي حیثیت غوره کړی دی.

د علومو له بېلابېلو برخو څخه یوه مهمه او بنسټیزه برخه د ژبنیو علومو برخه(Linguistic) ده چې د ژبو بېلابېلې برخې په کې تر څېړنې او پلټنې لاندې نیول کېږي او زموږ د څېړنې موضوع هم د ژبپوهنې اړوند یوه برخه ده. ژبه په انساني ژوندانه کې یوه مهمه او ارزښتناکه وسیله ده، ځکه د ټولنیز ژوند د بېلابېلو برخو په پرمختیا او پراختیا کې هغه مهمه وسیله چې د انسان له پیدایښت څخه یې ستره او بنسټیزه ونډه لرلې ژبه ده. ژبه په هر وخت کې د انسانانو د فکرونو، څرګندونو، تجربو، د علم او پوهې په انتقال، د اړیکو ټینګولو او شریکولو په موخه له بشریت سره تل مله پاتې شوې ده. له همدغه امله خو ژبه د بشري تمدن او کلتور د پرمختګ د زنځیر هغه لومړنی کړی ده چې نوري کړۍ یې په ځان پورې نښلولې دي.

ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده او دا خو څرګنده ده چې ټولنیزې پدیدې تل ثابتې نه پاتې کېږي، بلکې د بدلون په حال کې وي چې د ټولنې د هر اړخیز

بدلون ترڅنګ ژبې هم په خپل ثابت شکل نه دي پاتې، بلکې په ډېرو ژبـو کـې د ټولنيز ژوند د بېلابېلو دلايلو له مخې لهجـې رامنځتـه شـوي او د همـدغو ژبـو بېلابېلې لهجې بيا په خپل وخت او زمان سره په ځانګړو ژبو اوښتي چې د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو او ټولنو کې نن سبا په زرګونـو ژبـې ويـل کـېږي. د نـړۍ د ژبو کره شمېر تر اوسه نه دی معلوم، ځکه تر اوسـه پـه نـړۍ کـې داسـې بشـپړه څېړنه نه ده ترسره شوې چې د نړۍ ټولې ژبې معلومې کړي چـې څـومره ژبـې مړې دي او څومره ژبې ژوندۍ پاتې دي او په ژونـديو ژبـو کـې څـومره ځـانګړې ژبې دي او کومې د دغو ژبـو لهجـې دي چـې د ژبـو او لهجـو تـرمنځ د تـوپير او تفکيک بريدونه هم مشخص او راڅرګند کـړي، خـو پـه بېلابېلـو څېړنـو او ژبنيـو آثارو کې له درېو څخه تر اووه زرو پورې د ژبو د شتون يادونه شوې ده.

د نـړۍ ژبـې د نَسـبي (Genealogical) او ژبنيـو اړيکـو او ځـانګړنو لـه مخې په بېلابېلو ژبکورنيو وېشل شوي چې يوه لـه دغـو ژبکورنيـو څخـه د انـدو- اروپـايي(Indo- Eurpian Languges Family) ژبکـورنۍ ده چـې د نـړۍ نږدې د نيمو وګړيو مورنۍ ژبې ورپورې تړلې دي. د اندو- اروپايي ژبکـورنۍ بيـا په بېلابېلو ژبنباخونو او ژبڅانګو وېشل شوي چې ګوَري ژبه د همـدې سـترې او پراخې ژبکورنۍ د (آريک) ژبنباخ د (درديک) ژبڅانګې د مرکـزي دارډي ژبـو د ډلې ژبه ده.

زموږ د دې څېړنې موضوع ( د ګـوَري ژبـې فونولـوژي) ده چـې پـه څلـورو څپرکو کې په دې ډول بشپړه شوې ده:

په لومړي څپرکي کې له معمـول سره سـم د موضـوع پـر شـاليد بحث او خبرې شوې او د هغو آثارو، کارونو او هڅو يادونه په کې په منظمـه توګـه شـوې

چې له دې څېړنې وړاندې د نورو بېلابېلو څېړونکو او لیکوالو له لوري ترسره شوي او یا هم په کې د موضوع اړوند یادونې شوي دي.

په دویم څپرکي کې د اندو- اروپایي ژبکورنۍ پر بېلابېلو ژبښاخونو پر لنډه بحث سربېره د آریک ژبښاخ پر ژبځانګو اندو- آریايي، آریاني او داردیک باندې لنډه څېړنه ترسره شوې، خو دا چې ګوَري ژبه له دې ژبځانګو څخه په داردیک ژبو پورې تړلې ده، نو په دې څپرکي کې د اندو- آریايي او آریاني په پرتله په داردیک ژبځانګه یو څه زیات بحث او څېړنه ترسره شوې ده.

درېیم څپرکی په داردیک ژبو کې د ګوَري ژبې دریځ دی چې په کې د ګوَري ژبې پر پېژندنه او تاریخچه، د ګوَري ژبې په اړه د بهرنیو او کورنیو پوهانو نظریات او د هغوی د نظریاتو ارزونه، د ګوَري ژبې د ویونکو پر مېشتځایونو، د داردیک ځانګې له پشه یي او نورستاني(کلښه الا) ژبو سره د ګوَري ژبې پر نږدېوالي، په شمېر نومونو، د کورنۍ د غړو په نومونو، د میوه جاتو په نومونو، د حیواناتو په نومونو او د انسان د بدن د غړو په نومونو کې بحث او څېړنه ترسره شوې ده.

په څلورم څپرکي کې د ګرامر لنډه تشریح، توضیح او د ګوَري ژبې د فونولوژۍ پر اړوندو موضوعاتو باندې بحث او څېړنه ترسره شوې چې لومړی ګرامر او ورپسې په ترتیب سره پر غږپوهنه، فونېټیکس، د فونولوژي او فونیټیکس ترمنځ توپیر، فونیم، ګرافیم او نورو څنګزنو عنوانونو باندې بحث او څېړنه ترسره شوې ده. په دویمه برخه کې د ګوَري ژبې د فونیمونو د تشخیص، پېژندنې او ډولونو په لړ کې پر خپلواکو غږونو، بېواکو غږونو، نیمواکو غږونو، غبرګغږونو، بېواکو مرکبو غږونو او نورو بېلابېلو څنګزنو عنوانونو لاندې بحث او

څېړنــه تــرسره شــوې ده او د خپلواکــو او بېواکــو غړونــو پــر بېلابېلــو مســايلو او ځانگړنو بحث شوی او همدغه ځانگړنې او مسايل يې په بېلابېلـو جـدولونو کـې هم په خپل ځای سره وړاندې شوې دي او وروسـته د گـوَري ژبـې د فـونيميکي الفباء په برخه کې د گوَري ژبې د ليکنې نظام له پيل څخـه د الفبـاوو پـه بهيـر بحث او څېړنه ترسره شوې ده.

پـه پـای کـې د څېړنــې لـه اصـولو او معمـول سره سـم پايلـه، وړانديزونـه، ضمايم او مأخذونه راوړل شوې دي.

## د څېړنې موخه

پـه هـر هېـواد او ټولنـه کـې ژبـې د هغـه هېـواد د مـلي فرهنـگ سـتره او ارزښتناکه پانگه گڼل کېږي چې د ساتنې، پالنې، ودې او پرمختيا په برخه کې يې د لازمو او اړينو لارو چارو، پروگرامونـو او زمينـو برابـرول او تطبيقـول د هـرې ژبې حق او د اړونده دولت دنده او مسووليت وي. د افغانستان له بېلابېلـو مـلي ژبو څخه يـوه هـم گـوَري ژبـه ده چـې د يـوه ځـانگړي قـوم د هويـت او فرهنـگ ښکارندويي کوي او همدغه ژبنـۍ او قـومي رنگـارنگۍ دي چـې زمـوږ د هېـواد ملي فرهنگ ته يې ښکلا او بډاينه وربخښـلې ده. گـوَري ژبـه زمـوږ د هېـواد لـه پخوانيو ژبو څخه ده چې پر افغانستان سربېره په پښتونخوا کې هم ډېر ويونکي لري. گرامر د ژبې ستره او بنسټيزه برخه جـوړوي او د يـوې ژبـې پـه پرمختيـا او بډاينه کې ستره ونډه هم لري د يوې ژبې د نـورو برخـو پياوړتيـا لـه گرامـر پرتـه نيمگړې گڼل کېږي، نو د دې څېړنې ستره موخه دا ده چې هـم بـه د دې ژبـې د گرامر لومړنۍ برخه(فونولوژي) بشـپړه شي او هـم بـه د دې ژبـې د ويونکـو، د علـم او فرهنـگ مينـه والـو او نـورو هېوادوالـو تـه د گټـې اخيسـتنې لپـاره سـتر

خدمت وي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې یو خو د ګوَري ژبې او ادب په برخه کې په ټوله کې لازمې څېړنې او کارونه نه دي ترسره شوي په ځانګړي ډول د دې ژبې د ژبپوهنې په برخه کې چې یوه مهمه او بنسټیزه برخه ده، تر اوسه ډېر لږ کار چې له نشت سره برابر دی او په هېڅ ډول د دې ژبې لپاره کفایت نه کوي، ترسره شوی دی. فونولوژي د ګرامر لومړنۍ او مهمه برخه ده چې د یوې ژبې لپاره د اساس حیثیت لري، خو په ګوَري ژبه کې په دې برخه کې اکاډمیک کار نه دی ترسره شوی، نو ستر مبرمیت او اهمیت یې همدا دی چې د دې څېړنې په ترڅ کې به د ګوَري ژبې د فونولوژي برخه بشپړه او څېړنه پرې وشي.

## د څېړنې ډول او مېتود

د دې علمي- څېړنیزې رسالې په بشپړولو کې له دوه ډوله څېړنې، کتابتوني او ساحوي څخه کار اخیستل شوی چې تر ډېره بریده یې څېړنه پر کتابتوني ډول ترسره شوې، خو دا چې د څېړنې موضوع (د ګوَري ژبې فونولوژي) وه، د ګوَري ژبې د فونیمونو او ځینو نورو اړوندو مسایلو د ښه تشخیص او پېژندنې په موخه د اړتیا له مخې له ساحوي څېړنې څخه هم کار اخیستل شوی دی.

په دې څېړنه کې له تشریحي، تحلیلي او پرتلیز مېتود څخه کار اخیستل شوی او د همدې مېتودونو پر بنسټ د رسالې موضوعات په ترتیب سره څېړل شوي دي.

په دې څېړنه کې چې د ګوَري ژبې د فونولوژۍ او نـورو اړونـدو موضـوعاتو د څېړلو او بيانولو څومره حق وو، ښايي هومره مو نه وي سرته رسولی. په دې لړ کې زه خپل کار بشپړ او وروستی نه ګڼم، نو ښايي چې ځينـې نيمګړتيـاوې بـه هم لري، ځکه د ګوَري ژبې د ګرامر په برخه کـې لازمـې څېړنـې نـه دې تـرسره شوي او دا يې زه پيل بولم، ځکه په دې برخه کې په لسګونو آثار ليکـل کېـدای شي، خو هيله مند يم چې دغه څېړنـه مـې تـر خپلـې وسـې بشـپړه کـړې وي. خدای دې وکړي چې دغه هڅه د ګوَري ژبې ويونکو، درنو لوسـتونکو، د علـم او ادب مينه والو او هېوادوالو ته ګټوره او په زړه پورې تمامه شي.

په پای کې زه د دې علمـي- څېړنيـزې رسـالې لـه لارښـود اسـتاد قـدرمن څېړنوال دکتور رفيع الله نيازي څخه د زړه له تلـه پـه ادبي، فرهنګـي او علمـي مينه، مننه کوم چـې وخـت پـر وخـت يـې راسره د رسـالې د اصـلاح، سـمون او بشپړولو پـه موخـه پـه پـوره مينـه او لېوالتيـا خپلـې علمـي لارښـوونې، نظريـې، وړانديزونه او نېکې مشورې شريکې کړې دې، کور يې ودان، په علم او قلـم يـې برکـت شـه، اللـه تعـالی دې يـې ژونـد د تـل لپـاره سرلـوړی او نېکمرغـه لـري. همدارنګه د ورونو قومونو انستيتوت له آمر څېړنپـوه خيـر محمـد حيـدري څخـه هم د زړه له تله په ادبي او فرهنګي مينه، مننه کوم چـې د کتـابونو د همکـارۍ ترڅنګ يې خپلې علمي لارښوونې او نېکې مشورې راڅخه نه دې سپمولې.

د ګران هېواد د فرهنګ د ودې او بډاينې او په ځانګړې ډول د ګوَري ژبې او ادب د پرمختګ، ودې او ځلا په هيله.